# دولې ونه



۴

د سنايي پرمختيايي موسسې له خپرونو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴

# دولې ونه

خپرونکې : د سنايي پرمختيايي موسسه
مسول مدير : راز محمد دليلي
ليکونکی : وحيد عمر معاشر
پښتو ژباړه : پوهنمل سرور ماموند
انځورګر : سلطان حميد فانوس
کمپوز او ډيزاين : سيف الله زماني

لومړی طبع : ۱۰۰۰ ټوکه (NCA) په مالي مرسته د 1378 کال د تلې مياشت.
دويمه طبع : ۵۰۰۰ ټوکه (US-BPRM) په مالي مرسته د IRC-UGP له خوا د ۱۳۷۹ د ليندی مياشت
دريمه طبع : ۲۰۰۰ ټوکه د USAID-TRoCAIRE په مالي مرسته
څلورمه طبع : ۲۰۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) په مرسته Chidren at Risk
پنځمه طبع : ۱۰۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) په مرسته ۱۳۸۱ کال د کب مياشت.
شپږمه طبع : ۱۰۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) په مرسته ۱۳۸۲ کال د وري مياشت.
اوومه طبع : ۲۰۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) په مرسته د ۱۳۸۲ کال د ليندی مياشت.
اتمه طبع : ۱۰۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسه (SDO) په مرسته د ۱۳۸۲ کال د غوايي مياشت.
نهمه طبع پښتو : ۱۵۰۰ ټوکه د سنايي پرمختيايي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۵ کال د سلواغې مياشت
لسمه طبع پښتو : ۱۰۰۰ توګه د سنايي پرمختيايي موسسې په مالي مرسته د ۱۳۸۶ کال د کب مياشت

ددې کتاب ټول حقوق د سنايي پرمختيايي
موسسې پورې اړه لري.

په کابل کې پته : پنځم سړك، انصاري څلور لارې د محمد علم فيض زاد ليسې خواته
تيلفون : ۰۲۰ - ۲۲۰۱۶۹۳
پست بکس : ۱۸۱ کابل افغانستان
برېښنا ليك : sieal@brain.net.pk
انټرنيت پانه : www.sanayee.org
په پاکستان کې پته : اورکزي پلازې شاته، يونيورستي تاون، پېښور پاکستان.
تيلفون : ۰۰۹۲ - ۹۱ - ۵۸۴۲۱۵۵ - ۹۱۵۸۲۱۶۵
فکس : + ۹۲ + ۹۱ - ۵۸۴۵۱۳۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ۴

## تصويري کيسه

# دولې ونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اوسنی چاپ سریزه

د ځنګل د ونو او ښکو دولې د ونې د کتاب د لوستونکو احساس را وېښ کړی او پر هغوي یې اغېزه وکړه. خو کله چې یې پاتې پاڼې ولوستلې (چې د ژوند هیله ده او پرته له زيار څخه سوکالي نه شته)، نو بيا يې علاقه او شوق پيدا کړ او د انسان، انسانيت لپاره هيله مند شول خپلو نورو دوستانو ته يې ددې کتاب لوستل ګټور وبلل او ورته يې د لوستلو سپارښتنه وکړه. د سنايي پرمختيايي موسسې د لومړي ځل لپاره د ولې دونې د کتاب زر ټوکه چاپ کړل. دغه زر ټوکه د زرګونو غوښتنو په وړاندې کم وو، نو ځکه يې د هغه د نورو چاپولو لپاره اقدام وکړ.

د ادی مونږ په ډېره مينه ددغه کتاب پښتو ژبـــــاړه خپلو ګرانو لوســـتونکو ته وړاندې کوو او ورته د خدای (ج) له دربـــار څخه د برياليتوبونو هيله کوو.

والسلام

راز محمد دليلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

لکه چې ټول پوهیږو چې ځنګل په ژوندی چاپیریال کې د ښاهرګ حیثیت لري چې له هغه پرته ژوند نا ممکن دی. «د ولې بې میوې ونه» چې تاسو به ورسره د کتاب د لوست پر مهال اشنا شئ هغه ونه ده چې خپل ژوند یې په ځنګل کې د نورو دوستانو په ډله کې ممکن ګرځولی او کله چې لرګي ماتوونکی بابا، د هغه دوستان او پلار هره ورځ له منځه وړي نو دولې ونه فکر کوي چې که مونږ د انسانانو لپاره ګټور هم واوسو. بیا ولې هغوي زمونږ نسلونه له منځه وړي؟ د ځنګل د ونو پرې کول په حقیقت کې د هغوي ژوند له منځه وړل دي، تر هغه چې یوه ورځ دولې ونې په دغه فکر انسانان هم ورسیدل او څو تنه خیر غوښتونکو د لرګي ماتوونکي بابا سره یو ځای په ځنګل کې ونې کښینولې او دولې ونې د خپل پلار، مور او نورو دوستانو سره یو ځای خپل ژوند ته ادامه ورکړه.

د «ولې بې میوې ونه» کتاب د سنایي پرمختیایي موسسې (SDO) د کتابونو د چاپ د لړۍ څلورم کتاب دی چې د ماشومانو او تنکیو ځوانانو لپاره خپریږي. ددغه کتاب د خپرولو موخه زده کړه او د معلوماتو زیاتوالی دی چې د ژوندي چاپیریال په هکله سرته رسیږي. د ځنګل اهمیت او د زړه سواندي احساس تحریك او نوع دوستی ده چې د یو بل په وړاندې باید موجوده وي.

والسلام

راز محمد دلیلي


(c) ketabton.com: The Digital Library

# دولې ونه

وۀ نه وۀ، لیرې د غرونو شـــــاته یو کوچنی ځنګل وۀ چې له ښکلو ونو ډک وۀ، د غټو ونو تر منځ، د ولې کوچنۍ ونې د خپل پلار او مور سره ژوند کولو او تر څنګ او خوا شـــــایې د توتانو، مڼو، ناکو، شـــــفتالانو ونو او سپین چنار چې د ځنګل د ونو په منځ کې د اوږد ګوډ بابـــا په نامه مشهور وۀ، ژوند درلود. دولې ونې پلار او مور او نورې ټولې ونې خوښوولې او ټولو یو له بل سـره د خوښۍ او خوشحالۍ ژوند درلود.

دولـــې ونـــې د الوتونکـــو او نـــورو ځنـــاورو ترمنځ هم ښه دوستان درلودل، خوږ غږی بلبـل، شـــوخ سنجابـــك او ښکلی طوطي د هغې ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستان وو. بلبل همیشه د ولې د ونې لپاره سندره ویله، طوطی په خوږه ژبه د دې سره غږېدلو او شوخ سنجابك (چتي) د ولې د ونې د ښاخونو سره ساعت تیري کوله.

کله چې به شپه کېدله نو موسیچه ګك (فاخته) په خپل کور کې چې د ولې پر ښاخ یې جوړ کړی و د خپلو بچیو سره پټېدلو او د ولې ونې به د دې لپاره چې د هغوی ساړه ونه شي نو هغوی به یې په خپلو پاڼو کې پټول. خو د ولې د ونې او د ځنګل نورو ونو د دغو ټولو دوستانو ترمنځ ستر دښمن هم موجود و. هغه دښمن چې د ځنګل ډېرې ونې یې پرې کړې وې. هغه زوړ، عمر خوړلی لرګي ماتوونکی بابا و چې کال پر

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

کال به یې ځنګل پرې کولو.

لرګي ماتوونکی بـــه زیات وخت، هره ورځ ځنګل ته راتللو یوه یا دوه ونې به یې پرې کولې او د ځان سـره بـه یې وړلې. هره ورځ چې بـه لرګي ماتوونکـی راتللـو ونـو، ځنـاورو او الوتونکـو مرغیو ټولو بــــــه غوښتل چې هغه دې کاره وا ړوي، خـو د هغـوي لپاره دا کـار ګران ؤ. ځکـه چې نه خو هغوي د انســـانانو پر ژبــــه او نه هم انسانان د هغوي پر ژبه پوهیدل. د اوړی (دوبی) ګرمـې ورځې وې او په همد غـو ورځو کـې لـرګي ماتوونکی بابـا زیات راتللو او ونې بــه یې پرې کولې. یوه ورځ د معمول ســـــره ســـــم لرګي ماتوونکی د تبر او تیشې سره دلرې راڅرګند شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولې ونې خپلې مورته وویل: مورې خدای دې خیر کړي بیا هم لرګي ماتوونکی بابا راغی.

مور یې ځواب ورکړ:

لرګي ماتوونکی د اوږد ګوډ چنار بابـــا په لور روان دی، لکه چې غواړی چې ګود اوږد بابا پرې کړي. وګوره چې اوږد ګوډ بابـــا څنګه لړزیږي.

لرګي ماتوونکی بابـــا د چنار خواته نږدې شـــو. د ولې دونې پلار په دې وخت کې په ډېرې ناهیلۍ سره وویل: مونږ څومره بدبـخته یو چې نه شـــو کولای خپل دوســـت له مرګه وژغورو، افســوس چې انســانان زمونږ پر ژبــه نه پوهیږي چې ورتــه ووایــو چې اخــر مونــږ هــم ژونــدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

موجودات يو، مونږ هم ژوند لرو او ستاسو لپاره ګټور يو. ستاسي اړتياوې پوره کوو. خو افسوس چې نه خوځيدلای او نه هم تښتيدلای شو.

دولې ونې د ځان سره ويل:

همدغه لرګي ماتوونکي پرون هغه ناجو چې زمونږ په ګاونډ کې وه پرې کړ، نن ورځ ګوره بابا پرې کوي، او سبا به زمونږ وار رارسي او په پای کې به ټولې ونې پرې کړي او يوه ورځ به زمونږ ځنګل په غټه دښته بدل شي، په دې فکر کې وُ چې د چيغو او کړيکو جګ غږيې واوريدلو. ويې ليدل چې لرګي ماتوونکي بابا په خپل قوي تبر سره ګوره اوږد بابا چنار چې د ډيرو کالونو را هيسې دولې د کوچنۍ ونې د

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار دوست ؤ، وهلی او د چنار دونې له تنې څخه وینه روانه شوه، خو افسوس چې انسان نه شی کولای دونو وینه ووینې او د هغو د کړیکو غږواوري. په دې هم نه پوهیږي چې په خپله د خپل ژوند ریښې پرې کوي. هغوي نه پوهیږی چې ونې او ځنګلونه دوي ته څومره ګټه لري؟ لرګي ماتوونکي پخپل تبر سره څو ځلې د چنار دونې پرتنه ګوزار وکړ او په پای کې چنار پر ځمکه راپریوت چې همدغه ورځ پرتولو او په تیره بیا دولې د کوچنۍ ونې په پلار ډیره سخته تیره شوه. د شپې له خوا دولې ونې د خپل پلار څخه وپوښتل.

پلاره! آیا مونږ د انسانانو لپاره مضر یو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


پلار یې ځواب ورکړ هیڅکله نه، نه دا چې مضر نه یو بلکه ګټور هم یو. د ولې ونې وپوښتل: د انسانانو لپاره زمونږ ګټه څه ده؟ پلار یې ځواب ورکړ:

زمونږ لومړنۍ ګټه د انسانانو لپاره داده چې مونږ چاپیریال د کثافاتو او ککړتیا څخه ژغورو او چاپیریال د شین والي او د تازه ګۍ سبب ګرځو او په دې توګه د ټولو انسانانو او ژوندیو موجوداتو لپاره ډیر ګټور یو.

ولې بیا وپوښتل: نو بیا ولې انسانان مونږ پرې کوي او ولې وایي چې وله، چنار او ناجو بې میوې ونې دي؟

پلار یې ځواب ورکړ: په دې خاطر چې موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه د توت، شـــفتالو، مڼې، انار او نورو په څير میوه نه لرو او انســـان نه شـــي کولای زمونږ څخه څه شـــي وخوري. خو انســـان نه پوهیږي چې مونږ نورې ګټې هم لرو چې دغه نورې ونې یې نه لري.

دولې ونې وپوښتل ؟ د مثال په توګه کومې ګټې؟ پلاریـــې ځواب ورکـــړ: د مثـــال په تـــوګه دا چې مونږ همیشـــــه مضر او زیان رســـــوونکي غازات لکه کاربـــن ډای اکســـایډ چې په هوا کې دي جذبـــوو او په عوض کې یې اکســـیجن جوړوو چې د انســـانانو ځناورو او نورو نبـــاتاتو د ژوند لپاره ډیر مهم رول لوبـــوي. په ډیر ګرم اوړی کې کله چې انســـــــان له ډیرې ګرمۍ او تندې زمونږ ســـــیوري ته پناه راوړي نو مونږ هیڅکله خپل


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

سیوری د هغوي له سره نه دی لرې کړی، د هوا د سوړوالی او د طبعیت د ښکلا سبب ګرځو. دا چې یو کور دونې پرته وچ او خالي ښکاري نو د ښته او ښکلی ځنګل هم یو له بل سره توپیر لري. خو افسوس چې انسانانو هیڅکله هم دونو او زمونږ د ژوند په اړه فکر نه دی کړی، د دې پر خلاف همیشه یې مونږ د بې ځانه شیانو په څیر پرې کړي یو او د خپل ځان لپاره یې د راحت او آرامۍ وسیله ګرځولي یو. هغوي هیڅکله هم د خپل راتلونکي په اړه فکر نه کوي که چیرې یوه ورځ ونې او نباتات ټول له منځه ولاړشي او ځمکه په یوه سوځیدونکې او وحشتناکه د ښته واوړی نو د انسانانو او ځناورو لپاره د ځمکې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

مخ د ژوند امکان له منځه ځي. ځکه چې زموږ ژوند د هغوي له ژوند سره مستقیمه رابطه لري. هغوي بـــــه تر هغه وخته ژوندي وي چې موږ ژوندي واوســـو. هغوي زموږ څخه کاغذ میز، څوکۍ او داســـې نور څیزونه جوړوي او د کاغذ او میز او څوکۍ جوړولو فابــــــریکې پر موږ چلیږي. همدا رنګه زموږ څخه په پخلي او نورو حالاتو کې هم کار اخلي.

دولې کوچنۍ ونې بیا وپوښتل، آیا د کاغذ جوړولو فابـریکه نشـــي کولای چې پرته له لرګیو څخه د نورو مـوادو څخه هم کـار واخلي، ځکه چې کاغذ هم ډیر مهم شـــي دی. خو زموږ ژوند تر دې هم ډیر مهم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار يې ځواب ورکړ: هو نوري لارې هم شته، د مثال په توګه هغه نورې لارې چارې چې اوس شته او هغه دا چې د زاړه کاغذ څخه نوی کاغذ جوړوي، مثلاً ورځپاڼې، زاړه کتابونه زړې مجلې او داسې نور د مډرنو وسايلو له لارې په نوی کاغذ په ډيره کمه بيه او ښه کيفيت سره اوړي چې دا هم د انسان او هم زمونږ لپاره ډيره ګټوره ده. خو دغه نوې طريقه ډيره کمه کارول کيږي او يواځې په پرمختللو هيوادونو کې ورڅخه کار اخيستل کيږي. کيدای شي چې دغه بهير زمونږ هيواد ته هم راورسيږي خو هغه وخت به مونږ نه يو.

پلار يې نور نه شو کولای چې خبرې وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


مرۍ يې ۀ کړه او غوټه وه ځکه په دې پوهيدلو چې نږدې ورځو کې به د لرګي ماتوونکي بابا د تبر ګی ښکار شي.

دولې کوچنۍ ونه هم ډيره خفه وه، چاره يې نه درلوده، پرته له دې چې انتظار وباسي چې څه وخت د لرګي ماتوونکی بابا لاسونه هغې او د هغې پلار او مورته رارسيږي. په ځنګل کې د منې، ناکو، انارو، شفتالو او نورو څخه پرته بل شي پاته نه و او دولې کوچنۍ ونه ښه پوهيدله چې دا ځل يې د پلار او مور وار دي.

د شپې تر سهاره يې همدغه فکر درلود.

موسيچې ته متوجه ووچې په څومره ناز او نعمت سره يې خپل بچي د وزرو لاندې کړي و او بيده

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

وو. پخپله هم بیدار وءاو ځلورو خواوته یې د ځان تماشا کوله چې کوم دښمن یې غافل نه کړي او بچي ور څخه یو نه سي. دا یې په یادوو چې تیر کال یې یو بچی دلړګي ماتوونکي بابا زوي په لینده (غولکه) وویشتلو او ترمخه یې بچي ساه ورکړه! خو د لرګي ماتوونکي بابا د زوي لپاره ښایي او ځینو نورو انسانانو لپاره همدا د سر ګرمۍ او تفریح وسیله وي، خو په حقیقت کې دا د موسیچې لپاره څومره غمجنه پیښه وه.

سهار وختي کله چې ښکلي لمر د غرونو له هغې خوا سر وهلي وءاو د سهار د راتللو او رڼا زیری یې ورکولو، دولې ونې د خپل پلار او مور سره ښه حالت نه درلود او هره لحظه یې ددې


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

انتظار ايستلو چې لرګي ماتوونکي بابا راځي، دولې کوچنۍ ونه په دې فکر کې وه چې څنګه لرګي ماتوونکي بابـــا په دې پوه کړي چې هغه خپل مـور او پلار د خپل ځان څخـه هـم زيـات خوښوي او که لرګي ماتوونکی هغوي پرې کړي نو بيا بـه بـله هيله پاته نه شـي او بـيا بـه د هغې ژوند په غټه سـوځيدونکې دښته کې دده لپاره څه مقصد او موخه ونه لري. پلار او مور يې هم په دې فکر کې وو چې د هغوي له تګ وروسـته يې خپل بچی چې ورتـه د ځان څخـه هـم زيـات ګران دی په څه حـالت کې وي. ورځ همدغه شـان تيره شـوه او لمر د غرونو ترشـا په پټيدو شـولو. خو د لرګي ماتوونکي بابا راتګ معلوم نه شو، تهول په

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


دې فکر کې وو چې ښايي لرګي ماتوونکی بابا ناروغه وي او يا يې هم نن استراحت کړی وي، خو واقعيت د کيشکرې (ښه خبرك) په راتلو سره څرګند روښانه شو.

د ماښام پر مهال کيشکره په ډېره خوښۍ له ليرې راښکاره شو. کيشکرې راتلل د معمول سره سم د ځنګل د ټولو ژوو او ونو لپاره نيك فال وؤ او ټول پوهيدل چې کيشکره هميشه د ځان سره د خوښۍ زيرى راوړي.

کيشکره نيغه راغله او د کوچنۍ ونې پر ښاخ کښيناستله.

د ولې کوچنۍ ونې په ډېره خواشينۍ وپوښتل: کوم ښه خبر دې راوړی او کنه؟


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کیشــکرې ځواب ورکړ: ښايي زما په ژوند ښه خبـر هم داوي. او که يې درته ووايم نو کيدای شـي چې له خوښۍ ليونی شـي. ونې تکان وخوړ او په تلوار او عجلې ســره يې وپوښتل: ژر کړه، ووايه چې څه خبـــر دی؟ کيشـــکرې ځواب کې وويل د خير غوښتونکو انســانانو يوه ډله زمونږ کلي تـه راغلې ده او دايـې دنـده ده چې د ځنګلو په تيره بيا د حـيواناتو او نبـاتاتو ساتنه تر سـره کړي. هغوي پرون د لرګي ماتوونکي بابا سره هم وليدل او دا چې نن ورځ لرګي ماتوونکی بابـــا رانه غـی نو دليـل يـې همدا دی. هغـوي د لـرګي ماتوونکي بابـا ســره وعده کړې ده چې همغه پيســې چې دونو د ماتولو پرې کولو او پلورلو له

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړې يې تر لاسه کوی هغوي يې ورکوي، يوازې
دا چې د نبـاتاتو اوونو د ســاتنې مســوولیت او
دنده پرغاړه واخلي.لرګي ماتوونکي بابـــــا دا
منلې ده او اوس يې نوم د لرګي ماتوونکي بابـــا
پر ځای د ځنګل ساتونکی بابا دی.

دولې ونه له خوښۍ په جامو کې نه ځایدله،
ټولې خبرې يې پلار او مورته ورسولې او لږ وخت
نـه وُتیـر چې د غـه آوازه په ټول ځنـګل کـې خپره
شـــوه، ونو له خوښۍ څخه پاڼې پر پاڼو وهلې او
داســـــې معلومیدله چې ښا يي د خوښۍ څخه
ســندرې وايي. ځناور او الوتونکي هم ډیر خوښ
ښکاریدل او ټول يـو ځای په خوښیـو او تفریـح
بوخت ووُ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

دولې کوچنۍ ونې د يخ بـــاد له امله د مور غېږ ته تللې وه او مور يې پر ښاخونو ورته نـوازش ورکولو، خو دولې پلار لاتر اوسه هم د خپلو تللو ملګرو او تر ټولو زيات د اوږد ګوډ چنار بابـــا په ياد کې تللی وئ سبـا ته د ځنګل ســاتونکی بابـا دليرې راځرګند شـــو، خو دا ځل يې تبـــرګی او تيښه نه درلودل بـــلکه څو نور کســـان ورســـره ملګري وو. ځنګل ساتوونکي بابا پر اوږو بـيل درلود او نورو کســانو هم بـوټي پر اوږو کړي ووې. کله چې هغوي د ځنګل منځ ته راورسيدل، لرګي ماتوونکي بابا بـيل پرځمکه کيښودلو او څلورو خواوو ته يې نظر وکړ او ســـوړ اســـويلي يې وويســـت! ښايي له خپلو تيرو کړنو پښيمانه وه،


(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

خو لږ ځنډ وروســته يې وخندل او پر شـــونډو يې رضايت جوت شو، او ښايي په دې پوهيدلی وي چې لا اوس هم وخت دی نو ځکه يې د نورو ســـره يو ځای د بوټو کښينولو کار پيل کړ او هغه او بــه شـــيندونکی چې د ده پر لاس وو ټولو ته يې او بـــه ورکـــړې. دولـــې کوچنــی ونـــې د خپلـــو نـــورو دوســـتانو په راتګ خوښي څرګندوله او ټولو ته يې د مينې او محبت په سترګو کتل.

د ماسپښين دوه درې بـــــجې وې او ځنګل ســـــاتونکي بابـــــا او نورو چې ټوله ورځ يې د ســـــوځيدونکي لمر لاندې کار کړی وو غبږ کړ. راځئ دومره بس دی، د نن ورځې لپاره هم دومره بـــس دی، يوه لحـــــظه آرام وکړو. ټول دولې د



(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنۍ ونې او د هغې د مور او پلار د سيوري لاندې کښيناستل او د آرامۍ ساه يې وباسله، له دغه ساړه سيورى او يخې هوايې مزه واخيستله او همدلته د لږ وخت لپاره بيده شول.

دولې کوچنۍ ونې ورو خپل پلار ته ويل: رښتيا وايې پلاره، موږ په رښتيا سره د انسانانو د آرامه او راحت وسيله ياستو. دوي څومره مهربانه او ښه دي.

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**